بشتو

پښتو

مترجم لعدة لغات

# صحيح الدعاء والثناء على الله تعالى

# مستندي دعاګاني
# او د الله تعالی ستاینه

د. عبدالله بن حمود الفريح

د دعاء آداب

د الله تعالی ستاینه

قرآني دعاوې

د درود اړوند دعاوې

نبوي دعاوې

د پناه غوښتلو نبوي دعاوې

د شرعي دم دعاوې

د سهار او ماښام اذکار



د هر سرلیک کلي ووهه ترخو ځانګړو اذکارو ته ولاړ شي

doa.eqtidaa.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# سریزه

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على رسوله الكريم، وعلى آله وصحبه أجمعين.

په دې ښکلي کتاب کې د هراړخیزه دعاوو بیلابیل ډولونه ځای پر ځای شوي لکه د الله تعالی ستاینه، قرآني دعاوې، نبوي دعاوې، د پناه غوښتلو دعاوې، د شرعي دم دعاوې، د سهار او ماښام اذکار او همدا ډول د دعاء آداب. زیار مې ایستلی چې مستندې او صحیحې دعاوې راټولې کړم ترڅو هر مسلمان دا کوښښ وکړي چې هغه دعاوې وغواړي کومې چې په قرآن او احادیثو کې راغلې او

ډېر خیر پکې رانغښتی دی.

هره دعاء مې په عربي ژبه د پښتو ژباړې سره لیکلې.

د دعاوو د سند لپاره مې احادیث ددې کتاب په پای کې لیکلي.

له الله تعالی څخه غواړم چې دا عمل خالص وګرځوي.

وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

**د. عبدالله بن حمود الفريح**

# مخکې تر دعاوو

اې مسلمانه ته خپل پالونکي ته اړ يې ...
ستا د اړتيا پوره کوونکی همغه دی، دا دي ماثورې دعاوې درته وړاندې کوم ... له زړه څخه ځان ورته تيار کړه، دا د هر خير ترلاسه کوونکې دعاوې دي، څومره چې کولی شې ترې يادې يې کړه، ډيرې دعاوې به داسې وي چې ستا د هرې اړتيا لپاره به بسنه کوي، ځکه دا داسې دعاوې دي چې توري  يې کم او معناوې يې پراخه دي، ستا څخه يوازې د زړه حضور او خپل رب ته عاجزي غواړي...

# د دعا آداب

**لومړی:** دعا غوښتونکی باید په اخلاص له الله تعالی دعا وغواړي، او باید په دې علم الیقین (کلک باور) ولري چې یوازې الله تعالی دده دعا پر پوره کولو قادر دی، نو له الله تعالی پرته دې له بل هیچا دعا نه غواړي او نه دې له الله پرته پر بل چا توسل کوي که هغه نبي وي او که ولي یا پرېښته یا کوم نیک بنده او که بل هر څوک هم وی، ځکه الله تعالی فرمایي: ﴿فَٱدۡعُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ﴾ [غافر: ١٤]

«(نو اې رجوع کوونکو) همغه الله د خپل دین په خالص ګرځولو سره وبولئ» [غافر: ١٤]

**دوهم:** په دې باید ځان ښه پوه کړې چې په دعا ستا بوختېدل په خپله یوځانګړی لوی عبادت دی چې د الله تعالی خوښیږي او تاته پرې ثواب در کول کیږي پرته له دې چې وګورې چې دا دعا د قبلیږي او کنه.

**دریم:** باید پر الله کلکه بروسه ولرې چې هغه ستا د دعا په قبلولو قادر دی، او ته بل کوم مخلوق ته ددې اړتیا نلرې چې تا الله تعالی ته ور نیږدې کړي او یا دا چې نورو داسې بدعتونو ته لاس واچوې کوم چې یو مسلمان په غیر شرعي توسل اخته کوي.

**څلورم:** الله تعالی ستا په توبه او د هغه لوري ته په رجوع کولو خوشحالیږي که څه هم ته

د خپلو ګناهونو له کبله له هغه هرڅومره لرې والی ولرې، پام کوه چې ستا زړه ته د دعا نه قبلېدو فکر او د الله له رحمت څخه مایوسي لاره پیدا نه کړي، بلکې دېته پام وکړه چې الله تعالی ستا په توبه کولو او هغه ته په رجوع کولو څومره خوشحالېږي سره له دې چې هغه بې نیازه ذات دی.

د الله تعالی دا قول در په یاد کړه چې فرمایي: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًاۚ﴾ [زمر: ٥٣] «په یقیني ډول الله تعالی ټولې ګناوې ببښي». او فرمایي: ﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌۖ أُجِيبُ دَعۡوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِۖ﴾ [بقره: ١٨٦] «او زما بندګان که ستا څخه زما په اړه پوښتنه

وکړي، نو زه ډېر نېږدې يم د بلونکي دعا اورم او ځواب ورکوم کله چې هغه ما وبولي».

**پنځم:** د دعا غوښتونکي خوراک او څښاک بايد له حرامې ګټې څخه نه وي، ځکه دا کار د دعا د قبلېدو پر وړاندې يو خنډ دی. د ابو هريرة رضي الله عنه په حديث کې راغلي چې رسول الله ﷺ يادونه وکړه: «الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ، يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ، يَا رَبِّ، يَا رَبِّ، وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ؟»: چې يو سړی به اوږد سفر کوي (چې د سفر د ستړتيا له کبله يې) د سر وېښتان ببر، ځان او جامې يې ګرد جنې وي، د (دعا لپاره به)

آسمان خواته لاسونه پورته کوي او وايي به اې ربه اې ربه، په داسې حال کې چې خوراک يې حرام وي او څښاک يې حرام وي او جامې يې له حرامو وي او په حرامو را لوی شوی وي نو دداسې کس دعا به څنګه قبوله شي. [صحيح مسلم، (۱۰۱۵)]

**شپږم:** دعاکوونکی باید د دعا آداب او سنتونه هم پر ځای کړي چې په لاندې ډول دي:

1 باید (دعا کوونکی) په داسې حال کې دعا وکړي چې پاک وي او اودس ورته وکړي لکه د لمانځه لپاره يې چې کوي، د ابو موسی ﵁ په حديث کې راځي کوم چې په صحيحينو کې راغلی چې د ابو موسی تره

ابوعامر هغه ته وصيت وکړ چې د نبي ﷺ څخه زما لپاره دعا وغواړه نو ابو موسی له نبي ﷺ څخه دعا وغوښته نو رسول الله اوبه راوغوښتې او اودس يې پرې وکړو بيا يې لاسونه پورته کړل بيايې وفرمايل: «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِعُبَيْدٍ، أَبِي عَامِرٍ»: اې الله عبيد ابوعامر ته بښنه وکړې، تردې پورې چې ما د هغه ﷺ د بغلونو سپينوالی وليدو، بيايې وفرمايل: «اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَوْقَ كَثِيرٍ مِنْ خَلْقِكَ، أَوْ مِنَ النَّاسِ»: اې الله هغه په ورځ د قيامت د خپلو ډېرو مخلوقاتو يا خلکو څخه پورته وګرځوې. [صحيح بخاري، (٤٣٢٣)، صحيح مسلم، (٢٤٩٨)].

2 باید (دعا کوونکی) مخ د قبلې پر لور وګرځوي

3 باید (دعا کوونکی) لاسونه پورته کړي. په دې دواړو سنتونو د عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما دا حدیث دلالت کوي چې فرمايي: عمربن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت دی چې فرمايي: د بدر (د غزا) په ورځ رسول الله ﷺ د مشرکینو لوري ته وکتل کوم چې زر کسان وو او د ده صحابه کرام درې سوه او نولس کسان وو، نو د الله نبي قبلې ته مخ کړو بیايې لاسونه پورته کړل او خپل رب ته په دعا شو: «اللَّهُمَّ أَنْجِزْ لِي مَا وَعَدْتَنِي، اللَّهُمَّ آتِ مَا وَعَدْتَنِي»: اې الله ماسره کړې

ژمنه پوره کړه، اې الله ماته هغه څه راکړه چې له ماسره دې ژمنه کړې. [صحيح مسلم برقم (١٧٦٣)].

4 باید (دعا کوونکی) خپله دعا د الله تعالی په ستاینه او د هغه د رسول ﷺ په درود پیل کړي. څکه د رسول الله ﷺ د صحابي فضالة بن عبيد په حديث کې راغلي چې فرمايي: رسول الله ﷺ يو کس ولیدو چې په لمانځه کې يې (په داسې حال کې) دعا غوښته چې نه يې د الله تعالی حمد بیان کړ او نه يې پر رسول الله درود وویلو نو رسول الله وفرمایل: «عَجِلَ هَذَا»: دې کس بیړه وکړه بیایې هغه راوغوښتو او ورته

يې وفرمايل: «إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ، فَلْيَبْدَأْ بِتَمْجِيدِ رَبِّهِ جَلَّ وَعَزَّ، وَالثَّنَاءِ عَلَيْهِ، ثُمَّ يُصَلِّي عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ يَدْعُو بَعْدُ بِمَا شَاءَ»: کله چې ستاسې يو کس لمونځ کوي نو د الله تعالی له حمد ثنا څخه دې پيل کوي او بيا دې پر نبي ﷺ درود ووايي بيا دې وروسته له هغې دعا کوي څومره يې چې خوښه وي.

که چېرته (دعا کوونکی) د الله له ستاينې پيل وکړي په ځانګړې ډول د ستاينې له هغو آيتونو څخه چې د ځينو سورتونو په پيل کې راغلي (کوم چې به وړاندې راشي) بيا پر نبي ﷺ درود ووايي بيا د الله تعالی څو ډوله

ستاينه بيان کړي ځينې به يې وړاندې راشي نو (دا دعا) به قبلېدو ته ډېره نږدې وي.

5 بايد (دعا کوونکی) په داسې حال کې له الله تعالى دعا وغواړي چې پر الله تعالى نيک ګمان ولري او په دې باور ولري چې دعا مې قبليږي او د دعا په قبلېدو کې له بيړې کار وانخلي بلکې په دې ډاډ من اوسي چې الله تعالى به دده دعا قبلوي. له ابو هريرة ﵁ څخه روايت دی چې نبي ﷺ فرمايي: «لَا يَزَالُ يُسْتَجَابُ لِلْعَبْدِ، مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ، مَا لَمْ يَسْتَعْجِلْ»: د بنده دعا تر هغه وخته قبليږي ترڅو چې د ګناه او صله رحمی پرې

کولو دعا ونه غواړي او ترڅو چې بیره ونه کړي، وویل شول چې اې رسول الله ﷺ بیړه څه ته وايي؟ ویې فرمایل: «يَقُولُ قَدْ دَعَوْتُ وَقَدْ دَعَوْتُ، فَلَمْ أَرَ يَسْتَجِيبُ لِي، فَيَسْتَحْسِرُ عِنْدَ ذَلِكَ وَيَدَعُ الدُّعَاءَ»: (دا چې) ووايي څو څو ځلې مې دعا وغوښته داسې ښکاري چې دعا مې نه قبلیږي، نو داسې مهال دا کار ناشونی وګڼي او نوره دعا کول پرېږدي. [صحیح مسلم (۲۷۳۵)]

6 (دعا کوونکی) باید له الله تعالی څخه د اسماء الحسنی په واسطه دعا وغواړي او هرځل له دعا سره مناسب اسم غوره کړي، نو که له الله تعالی د روزۍ دعا غواړي نو

وبه وايي اې رازقه! او كه له الله تعالى د رحمت غوښتنه كوي نو وبه وايي چې اې رحمان او رحيم ذاته او كه له الله څخه عزت غواړي نو و دې وايي: اې عزيزه، او كه له الله تعالى مغفرت غواړي نو به وايي: اې غفوره(بښونكيه) او كه له الله تعالى شفا غواړي نو و دې وايي: اې شافي (شفا وركوونكيه) نو په همدې ډول دې دخپلې دعا په مناسبت د الله د نومونو په واسطه دعا غواړي، څكه الله تعالى فرمايي: ﴿وَلِلَّهِ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ فَٱدْعُوهُ بِهَا﴾ [الأعراف: ١٨٠] «الله لره غوره نومونه دي، پر همغه غوره نومونو يې وبولئ». [الأعراف: ١٨٠]

7 (دعا کوونکی) باید د دعا توري تکرار کړي او له الله تعالی څخه په ټینګار غوښتنه وکړي؛ څکه د ابن عباس رضي الله عنهما په حدیث کې راځي: «اللَّهُمَّ أَنْجِزْ لِي مَا وَعَدْتَنِي، اللَّهُمَّ آتِ مَا وَعَدْتَنِي»: رسول الله ﷺ چې کله خپلو صحابه وو ته د بدر (غزا) په ورځ دعا کوله نو ویې فرمایل: اې الله ماسره کړې ژمنه پوره کړه، اې الله ماته هغه څه راکړه چې له ماسره دې ژمنه کړې. او تر هغه یې له خپل رب تعالی څخه دعا غوښتله تر څو یې له اوږو څخه څادر ولویدو، ابوبکر رضي الله عنه ورپسې و او ورته یې ویل اې د الله نبي له خپل رب څخه دومره دعا غوښتنه درته بسنه کوي.

همدا ډول په صحيحينو کې د ابو هريرة ﷺ په حديث کې راغلي: «اللَّهُمَّ اهْدِ دَوْساً وائْتِ بهم، اللَّهُمَّ اهْدِ دَوْساً وائت بهم»: کله چې نبي ﷺ د دوس (قبيلې) لپاره دعا کوله نو ويې فرمايل: اې الله دوس ته هدايت وکړې او هغوی (د اسلام په حالت کې) راولې، اې الله دوس ته هدايت وکړې او هغوی (د اسلام په حالت کې) راولې. [صحيح بخاري (۲۹۳۷)، صحيح مسلم (۲۵۲٤)]

8 (دعا کوونکی) بايد دعا په پټه وغواړي او خپل غږ پرې پورته نه کړي، الله تعالى فرمايي: ﴿ٱدۡعُواْ رَبَّكُمۡ تَضَرُّعٗا وَخُفۡيَةًۚ﴾ [الأعراف: ٥٥] «خپل رب په زاريو زاريو او په پټه پټه را وبولئ..».

په پټه دعا غوښتل اخلاص ته ډېر نېږدې وي.، همدا لامل دی چې الله تعالی د زکريا عليه السلام د (پټې) دعا ستاينه کړې او فرمايي: ﴿إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيًّا ۝٣﴾ [مريم: ٣] «...(ياد کړه هغه وخت) کله چې هغه خپل رب په پټه پټه وباله».

له مفسرينو يو امام فرمايي چې هغه (زکريا) د اخلاص پر بنسټ پټه دعا غوښتې وه.

9 (د دعا غوښتونکي) دعا بايد د الله تعالی پر صفت او ستاينه مشتمله وي ځکه چې الله تعالی دا خوښوي چې بنده يې پر ستاينه مشغول شي او د ثناء په ويلو د هغه (الله) عبادت وکړي کنه نو الله تعالی خو له خپلو بنده ګانو څخه بې نيازه دی.

په صحیحینو کې د عبدالله بن مسعود په حدیث کې راغلي چې رسول الله ﷺ فرمايي: «وَلَا أَحَدٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ الْمَدْحُ مِنَ اللهِ وَلِذَلِكَ مَدَحَ نَفْسَهُ»: له الله زيات هيڅوک هم د ځان ستاینه نه خوښوي له همدې کبله هغه د خپل ځان ستاینه کړې.

10 (دعا غوښتونکی) باید د دعا قبلیدو وختونه (ځان ته) معلوم کړي او په هغو کې د الله تعالی څخه دعا وغواړي. د دعا قبلېدو کوم ځايونه او وختونه چې په نصوصو کې راغلي له هغو څخه ځیني دادي: (د آذان او اقامت ترمنځ، د شپې په وروستۍ برخه کې، د جمعې د ورځې په یوه ګړۍ کې، له

لمنځونو  وروسته، په سجدو کې، د باران وریدو پر مهال، مسلمان ورور ته د هغه په غیاب کې دعا غوښتل، د پلار دعا خپل اولاد ته، د مسافر دعا او د مظلوم دعا.)

صحيح الدعاء والثناء على الله تعالى

# د الله تعالی ستاینه



وړاندې

لومړۍ پاڼې ته راگرځېدل

## د الله تعالی ستاینه

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٢ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٣ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ۝٤﴾
[الفاتحة: ٢-٤]

«ټوله ستاینه یوازې الله لره ده، چې د ټولو کائناتو پالونکی دی، ډېر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی. د جزا د ورځې مالک دی». [الفاتحة: ٢-٤]

## د الله تعالی ستاينه

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ جَاعِلِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا أُوْلِيٓ أَجۡنِحَةٖ مَّثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۚ يَزِيدُ فِي ٱلۡخَلۡقِ مَا يَشَآءُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١﴾ [فاطر:١]

«ستاينه د الله لپاره ده، چې د اسمانونو او ځمکې جوړوونکی او د پيغام رسوونکو پرېښتو ټاکونکی دی (داسې پرېښتې) چې دوه دوه، درې درې، او څلور څلور وزرونه لري، د الله چې څنګه خوښه وي د خپل مخلوق په جوړښت کې زيات والی راولي، په يقيني ډول الله پر هرڅه قادر دی». [فاطر: ١]

## د الله تعالی ستاینه

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَجَعَلَ ٱلظُّلُمَٰتِ وَٱلنُّورَۖ﴾ [الأنعام:۱]

«ستاینه الله يوازې لره ده چې آسمانونه او ځمکه يې پيدا کړل، او تيارې او رڼا يې پيدا کړه». [الأنعام: ۱]

## د الله تعالی ستاينه

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ وَهُوَ
ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ١﴾ [سبأ:١]

«ټوله ستاينه د هغه الله لپاره ده چې د آسمانونو او ځمکې د هر شي څښتن دی او په آخرت کې هم د همغه لپاره ستاينه ده. هغه د حکمت څښتن او با خبره دی». [سبأ: ١]

## د الله تعالی ستاینه

1

«الْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ»

ټوله ستاینه یوازې الله لره ده، زیاته ستاینه، پاکه او مبارکه.

## 2

«رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ، وَمِلْءُ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ، أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ، أَحَقُّ مَا قَالَ الْعَبْدُ، وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ: اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ»

اې زمونږ پالونکيه! تا لره پوره ستاينه ده، د آسمانونو او ځمکې او د دې دواړو ترمينځ د مخلوقاتو د ډکوالي په اندازه، او په اندازه د ډکوالي د هغو شيانو چې وروسته يې غواړې (د خلقت اراده يې وکړې)، ای د ستاينې او لويی ښنتنه! ته ډير وړ يې د هغه (صفت)

چې يو بنده ويلی دی، او مونږ ټول ستا بندګان يو، اې الله! ته چې (چاته) څه ورکړې، د هغه (څوک) بندوونکی نشته، او ته چې (له چا) څه بند کړې د هغه (څوک) ورکوونکی نشته، او ګټه نه ورکوي شتمن لره د هغه شتمني (ستا د عذاب په لرې کولو کې).

3

«اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ كُلُّهُ، وَإِلَيْكَ يَرْجِعُ الْأَمْرُ كُلُّهُ»

اې الله تا لره ټوله ستاینه ده او د هرکار واک تا لره دی.

## د الله تعالی ستاينه

4

«اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ أَنْتَ قَيِّمُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، وَلَكَ الحَمْدُ أَنْتَ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، وَلَكَ الحَمْدُ أَنْتَ نُورُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، أَنْتَ الحَقُّ، وَقَوْلُكَ الحَقُّ، وَوَعْدُكَ الحَقُّ، وَلِقَاؤُكَ الحَقُّ، وَالجَنَّةُ حَقٌّ، وَالنَّارُ حَقٌّ، (وَالنَّبِيُّونَ حَقٌّ، وَمُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَقٌّ) وَالسَّاعَةُ حَقٌّ، اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، (وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ) وَإِلَيْكَ خَاصَمْتُ، وَبِكَ حَاكَمْتُ، فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَأَسْرَرْتُ وَأَعْلَنْتُ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، (أَنْتَ المُقَدِّمُ، وَأَنْتَ المُؤَخِّرُ) لاَ إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ»

اې الله زمونږ پالونکيه! تالره ستاينه ده، ته د آسمانونو او ځمکې اداره(تدبير)کوونکی يې، او تا لره ستاينه ده ته د آسمانونو اوځمکې او څه چې په دې دواړو کې دي د هغو پالونکی يې، ته حق يې(ستا وجود او الوهيت حقيقي دي) ستا خبره حق ده، ژمنه دې حق ده، ستا پر وړاندې حاضريدل (په ورځ د قيامت در تګ) خامخا کېدونکی دی، جنت حق (موجود) دی، د دوزخ اور حق(موجود) دی، انبياء حق دي، محمد ﷺ حق دی، د قيامت ورځ حق ده، اې الله! تا ته (ستا احکامو ته) مې سر ټيټ کړی، او پر تا مې ايمان راوړی، او پر تا مې بروسه کړې، او ستا خوا ته رجوع کوم، او ستا په راکړو دليلونو(له معاندينو

سره) مبارزه کوم، د(شخړو) پرېکړې لپاره تا
ته رجوع کوم، نو زما هغه ګناهونه وبښه کوم
چې ما وړاندې کړي او کوم چې ما وروسته
کړي، او کوم چې ما پټ کړي او کوم چې ما
په ښکاره کړي، او پر کومو چې ته له ما څخه
ښه خبر يې، ته وړاندې(پورته) کوونکی او
شاته(ښکته) کوونکی يې، نشته د عبادت وړ
مګر يوازې ته يې.

## د الله تعالی ستاینه

﴿ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلۡمُلۡكِ تُؤۡتِي ٱلۡمُلۡكَ مَن تَشَآءُ
وَتَنزِعُ ٱلۡمُلۡكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ
وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُۖ بِيَدِكَ ٱلۡخَيۡرُۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ
شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٦ تُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَتُولِجُ
ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِۖ وَتُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ
وَتُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّۖ وَتَرۡزُقُ مَن تَشَآءُ
بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٢٧﴾ [آل عمران:٢٦-٢٧]

«اې الله! د پاچاهۍ څښتنه! ستا چې چاته ته خوښه شي پاچاهي ورکوې او له چا څخه چې وغواړې اخلې یې، چا ته چې دې خوښه شي عزت ورکوې او څوک چې وغواړې ذلیله

## د الله تعالی ستاينه

کوې يې، بېشکه ستا په واک کې ده، بېشکه ته پر هرڅه قادر يې. شپه په ورځ کې او ورځ په شپه کې ننباسې او له بې ساه څخه ساکښ او له ساکښه بې ساه راباسې او چاته چې دې خوښه شي بې حسابه روزي ورکوې».

دا د آل عمران سورت دوه آيتونه (۲۶-۲۷) دي، د لومړي آيت څخه د (قل) توری په قصدې ډول لرې کړل شوي

## د الله تعالی ستاینه

5

«اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَوَاتِ وَرَبَّ الْأَرْضِ وَرَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ، فَالِقَ الْحَبِّ وَالنَّوَى، وَمُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْفُرْقَانِ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْءٍ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الْأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الْآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ، اقْضِ عَنَّا الدَّيْنَ، وَأَغْنِنَا مِنَ الْفَقْرِ»

اې الله! د آسمانونو او ځمکې پالونکيه او د ستر عرش څښتنه، زمونږ او د هر شي پالونکيه،

د دانې او زرې زرغونوونکیه، او د تورات او انجیل او قرآن را نازلوونکیه! زه پر تا د هر هغه شي له شره پنا غواړم د چا د تندي وېښتان (واک) چې ستا په لاس کې دی، اې الله! ته ترهرڅه لومړی یې تر تا مخکې څه نشته او ته تر هرڅه وروستی یې تر تا وروسته څه نشته، ته تر ټولو ښکاره(پورته) یې تر تا پورته څه نشته، ته پټ (او هرڅه ته نېږدې) یې تر تا پټ (او نېږدې) څوک نشته، زمونږ پوروونه ادا کړه او مونږ له بې وزلۍ وژغوره.

6

«اللَّهُمَّ إِنِّي أُشْهِدُكَ وَأُشْهِدُ مَلَائِكَتَكَ وَحَمَلَةَ عَرْشِكَ، وَأُشْهِدُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ، أَنَّكَ أَنْتَ اللهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُولُكَ»

اې الله! زه تا پردې شاهد ګرځوم، او ستا پرېښتې پرې شاهدانې ګرځوم او ستا دعرش پورته کوونکې (پرېښتې)، او هغه (مخلوقات) چې په آسمانونو او چې په ځمکه کې دي پردې شاهد ګرځوم چې بېشکه ته الله یې، بې له تا بل د عبادت وړ نشته، ته یو یې، شریک نه لرې، او زه شاهدي ورکوم چې محمد ستا بنده او ستا رسول دی.

## د الله تعالی ستاینه

**7**

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنِّي أَشْهَدُ أَنَّكَ أَنْتَ اللّٰهُ لاَ إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ الأَحَدُ الصَّمَدُ، الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ»

اې الله! زه ستا څخه خپل حاجت غواړم په دې چې زه ددې ګواهي ورکوم چې همدا ته الله يې، نشته وړ د عبادت مګر همدا ته يې، ايکي يو او بې نيازه يې، هغه ذات يې چې نه له چا زيږېدلی او نه له هغه څخه څوک زيږېدلي، او هيڅوك هغه لره سيال نشته.

په حديث کې راغلي چې دا دعا د الله هغه اسم اعظم دی چې الله ته پرې دعا وشي نو دعا قبليږي او څه چې ترې وغوښتل شي هغه ورکول کيږي.

8

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَرَبُّ الْأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ»

بل د عبادت وړ نشته بې له هغه الله چې لوی او حلم لرونکی دی، بل د عبادت وړ نشته بې له الله، چې د لوی عرش څښتن دی، بل د عبادت وړ نشته بې له الله چې د آسمانونو او ځمکې پالونکی دی، او د عزتمند عرش رب دی.

دا د غم او پریشانۍ لرې کولو دعا ده

9

## «اللّٰهُ، اللّٰهُ رَبِّي لَا أُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا»

الله، الله زما پالونکی دی زه ور سره هیڅ هم نه شریکوم.

دا د غم او پرېشانۍ لرې کولو دعا ده

10

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، وَالْحَمْدُ لِلهِ كَثِيرًا، سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ»

له الله پرته بل د عبادت وړ نشته، هغه یو دی، شریك نه لري، د لوی الله لویي بیانوم، الله لره ډېره زیاته ستاینه ده، پاکي ده الله لره چې پالونکی د ټولو کایناتو دی، هیڅ ځواک او توان نشته (له ګناه څخه د ځان ساتلو او د نیکیو د کولو) مګر د الله په مرسته، برلاسی حکیم دی.

11

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ»

له الله پرته بل د عبادت وړ نشته، هغه یو دی، شریك نه لري، هغه لره (د کائناتو) ټولواکي او پوره غوره ستاینه ده، او همدی پر هر څه قادر دی. پاك دی الله، پوره ستاینه الله لره ده، نشته د عبادت وړ مګر یوازې یو الله دی، او الله ډېر لوی دی. نشته هیڅ ځواک او توان (له ګناه څخه د ځان ساتلو او د نیکیو د کولو) مګر د اوچت او لوی الله په توفیق سره.

12

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ، أَنْجَزَ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ»

له الله پرته بل د عبادت وړ نشته، هغه يو دی، الله خپله ژمنه پوره کړه، او د خپل بنده مرسته يې وکړه، او په يوازې يې (د کفارو) ډلو ته ماتې ورکړه.

13

«اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لاَ إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ»

اې الله! ته زما پالونکی يې، له تا پرت بل د عبادت وړ نشته، تا زه پيدا کړی يم، او زه دې بنده يم، او زه له خپل توان سره ستا پر عهد او ژمنه ولاړ يم، زه پرتا پناه غواړم د خپلو کړو له شره، پر هغه نعمت دې اقرار کوم چې ما ته دې راکړی، او په خپله ګناه اقرار کوم، نو ما ته بښنه وکړه، چې له تا پرته څوک ګناه نشي بښلای

**14**

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّ لَكَ الْحَمْدُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ الْمَنَّانُ، بَدِيعُ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ، يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ، يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ»

اې الله زه درنه سوال کوم پردې چې تا لره ټوله ستاینه ده، له تا پرته بل د عبادت وړ م نشته، ته زيات احسان کوونکی (او احسان بارونکی) يې، د آسمانونو او ځمکې بې نمونې پيدا کوونکی يې، ای د لويې او عزت ورکولو څښتنه، ای د کامل ژوند څښتنه! ای د کايناتو تدبيروونکيه!

په حديث کې راغلي چې دا دعا د الله هغه اسم اعظم دی چې الله ته پرې دعا وشي نو هغه دعا قبليږي او څه چې ترې وغوښتل شي نو هغه ورکول کيږي.

## د الله تعالی ستاینه

15

«سُبْحَانَكَ مَا أَعْظَمَكَ رَبَّنَا»

اې زمونږ پالونکیه! تا لره پاکي ده،
ته څومره لوی شان والا يې.

16

«سُبْحَانَ ذِي الْجَبَرُوتِ وَالْمَلَكُوتِ
وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ»

پاک دی څښتن د زبرځواکۍ، او غتې
پاچاهۍ، او د لویي، او د عظمت.

## د الله تعالی ستاینه

17

«اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ ذُو الْمَلَكُوتِ وَالْجَبَرُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ»

لوی دی الله، (درې ځله ویل کیږي) څښتن د زبرځواکۍ، غټې پاچاهۍ، لویۍ، او عظمت.

18

«اللّٰهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيرًا، وَسُبْحَانَ اللّٰهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا»

الله لوی دی، چې د لویۍ څښتن دی، او الله لره زیاته ستاینه ده، الله لره پاکي بیانوم سهار او ماښام.

## دا مستحب ده چې دعا کوونکی پر الله تعالی د ثنا ویلو وروسته پر نبي ﷺ درود ووایي.

«اللَّهُمَّ صَلِّ وَسَلِّم عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ»

«اې الله! پر محمد ﷺ او د محمد ﷺ پر اهل وعیال درود ولېږه، لکه څنګه چې دې پر ابراهیم او د ابراهیم پر اهل وعیال درود لېږلی دی، په رښتیا ته ستایل شوی یې، د لویی څښتن یې.

صحيح الدعاء والثناء على الله تعالى

# قرآني دعاوې

1

﴿حَسۡبِيَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُۖ وَهُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ ١٢٩﴾

[التوبة:١٢٩]

«ما لپاره الله کافي دی، له هغه پرته بل د عبادت وړ نشته، پر همغه مې بروسه کړې او هغه د ستر عرش څښتن دی». [التوبة: ١٢٩]

2

﴿لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ
مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٨٧﴾ [الأنبياء:٨٧]

«له تا پرته بل هیڅوک د عبادت وړ نشته،
ستا ذات پاک دی بېشکه ما کمي کړې وه».
[الأنبياء: ٨٧]

3

﴿رَبِّ ٱجۡعَلۡنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِيۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ دُعَآءِ ٤٠﴾ [إبراهيم:٤٠]

«اې زما پالونکيه! ما د لمانځه قائموونکی وګرځوه او زما او له اولاد څخه هم (داسې خلک را پورته کړه چې دغه عبادت اداء کړي) زمونږ ربه! دعا مې قبوله کړه».
[إبراهيم: ٤٠]

4

﴿هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُۥۖ قَالَ رَبِّ هَبۡ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةٗ طَيِّبَةًۖ إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ٣٨﴾ [آل عمران:۳۸]

«زما پالونکيه! (په خپل قدرت) ماته ښه اولاد په برخه کړه، همدا ته د دعا اورېدونکی یې».
[آل عمران: ۳۸]

5

﴿رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسۡرَافَنَا فِيٓ أَمۡرِنَا وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا وَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٤٧﴾ [آل عمران: ١٤٧]

«اې زموږ پالونکيه! زموږ تېروتنې او ګناهونه او زموږ په کار کې تيرى راوبښه، زموږ قدمونه محکم کړه او پر کافرانو زموږ د برلاسۍ لپاره راسره مرسته وکړه». [آل عمران: ١٤٧]

6

﴿رَّبِّ ٱغۡفِرۡ وَٱرۡحَمۡ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ١١٨﴾ [المؤمنون:١١٨]

«زما ربه ببښنه وکړه او رحم وکړه، او ته تر ټولو رحم کونوکو ښه رحم کوونکی يې». [المؤمنون: ١١٨]

7

﴿رَبِّ إِنِّي ظَلَمۡتُ نَفۡسِي فَٱغۡفِرۡ لِي﴾

[القصص:١٦]

«اې زما پالونکيه! ما پر خپل ځان ظلم وکړ، ماته ببښنه وکړه». [القصص: ١٦]

8

﴿رَبَّنَآ أَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا صَبۡرٗا وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا وَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٢٥٠﴾

[البقرة: ٢٥٠]

«زموږ پالونکيه! موږ ته صبر راکړه، زموږ قدمونه ټينګ کړه او پر کافرانو مو برلاسي کړه». [البقرة:٢٥٠]

9

﴿رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً ۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْوَهَّابُ ۝٨﴾ [آل عمران:٨]

«زموږ پالونکيه! کله چې تا موږ پر سمه لار روان کړي يو، نو بيا هيڅکله زموږ زړونه مه کږه وه، موږ ته د خپلې پېرزونې له مخې رحمت را په برخه کړه، چې همدا ته حقيقي لوروونکی يې». [آل عمران: ٨]

10

﴿رَبِّ ٱشۡرَحۡ لِي صَدۡرِي ٢٥ وَيَسِّرۡ لِيٓ أَمۡرِي ٢٦﴾ [طه:٢٥-٢٦]

«پالونکيه! زما سينه راته پرانيزه، او زما کار ماته آسانه کړه». [طـه: ٢٥-٢٦]

11

﴿مَسَّنِيَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ٨٣﴾ [الأنبياء:٨٣]

«زه ناروغ یم او ته تر ټولو زيات مهربانه يې».

12

﴿رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنۡ هَمَزَٰتِ ٱلشَّيَٰطِينِ ٩٧
وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحۡضُرُونِ ٩٨﴾

[المؤمنون:٩٧–٩٨]

«اې زما پالونکيه! زه د شيطانانو له هڅونو (وسوسو) څخه تاته پناه دروړم، اې زما پالونکونکيه له دې څخه هم پناه غواړم چې هغوی ماته راشي». [المؤمنون: ٩٧-٩٨]

13

﴿رَبَّنَا ٱصۡرِفۡ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَۖ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ٦٥﴾ [الفرقان:٦٥]

«اې زمونږ پالونکیه! د دوزخ له عذابه مو وساته، د هغه عذاب سخت او تلپاتې دی».

[الفرقان: ٦٥]

14

﴿وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمًاۚ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡنَاۚ رَبَّنَا ٱفۡتَحۡ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَ قَوۡمِنَا بِٱلۡحَقِّ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡفَٰتِحِينَ ٨٩﴾ [الأعراف:٨٩]

«زمونږ د پالونکي پوهه پر هر څه چاپېره ده، پر همغه مو باور کړی، اې زموږ پالونکیه! زمونږ او د قوم تر منځ مو په حقه پرېکړه وکړه، او ته ډېر ښه پرېکړه کوونکی یې». [الأعراف: ٨٩]

15

﴿ٱرۡزُقۡنَا وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ١١٤﴾

[المائدة:١١٤]

«مونږ ته روزي راکړه او ته ډېر ښه روزي ورکوونکی یې». [المائدة: ١١٤]

16

﴿رَبَّنَآ ءَاتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةً وَهَيِّئۡ لَنَا مِنۡ أَمۡرِنَا رَشَدًا ١٠﴾ [الکهف:١٠]

«اې پالونکیه! مونږ پر خپل ځانګړي رحمت سره سر لوړي کړه او زمونږ چاره سمه کړه». [الکهف: ١٠]

17

﴿رَبِّ هَبۡ لِي حُكۡمٗا وَأَلۡحِقۡنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ ٨٣﴾ [الشعراء:٨٣]

«اې زما پالونکيه! ماته پرېکړه راوبښيه او له صالحانو سره مې يو ځای کړه». [الشعراء: ٨٣]

18

﴿رَّبِّ زِدۡنِي عِلۡمٗا﴾ [طه:١١٤]

«اې زما پالونکيه! ماته لا زياته پوهه راکړه».

19

﴿رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلۡتَ إِلَيَّ مِنۡ خَيۡرٖ فَقِيرٞ ٢٤﴾
[القصص: ٢٤]

«اې زما پالونکيه! هره ښېګڼه چې تا پر ما نازله کړې، زه هغې ته اړيم». [القصص: ٢٤]

20

﴿رَبَّنَا هَبۡ لَنَا مِنۡ أَزۡوَٰجِنَا وَذُرِّيَّٰتِنَا قُرَّةَ أَعۡيُنٖ وَٱجۡعَلۡنَا لِلۡمُتَّقِينَ إِمَامًا ٧٤﴾
[الفرقان: ٧٤]

«اې زموږ پالونيکه! مونږ ته له خپلو مېرمنو او اولادونو څخه د سترګو يخ والی راکړه او مونږ د ځان ساتونکو امامان وګرځوه». [الفرقان: ٧٤]

21

﴿رَبِّ أَوۡزِعۡنِيٓ أَنۡ أَشۡكُرَ نِعۡمَتَكَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَيَّ وَأَنۡ أَعۡمَلَ صَٰلِحٗا تَرۡضَىٰهُ وَأَدۡخِلۡنِي بِرَحۡمَتِكَ فِي عِبَادِكَ ٱلصَّٰلِحِينَ ١٩﴾ [النمل:١٩]

«اې زما ربه! ماته الهام وکړه چې زه ستا د هغې لورېینې شکر وباسم چې پر ما او زما پر مور او پلار دې کړې ده، او داسې نیک عمل وکړم چې ستا خوښ شي او په خپل رحمت ما په خپلو نېکو بندګانو کې داخل کړه». [النمل: ١٩]

22

﴿رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿١٢٧﴾ ﴿وَتُبْ عَلَيْنَآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٢٨﴾﴾ [البقرة:١٢٧–١٢٨]

«اې زمونږه ربه! زمونږ دا خدمت قبول کړه ته د هرڅه اورېدونکی او پر هرڅه پوه یې... او توبه قبوله کړه ته لوی توبه قبلوونکی او رحم کوونکی یې». [البقرة: ١٢٨-١٢٨]

صحيح الدعاء والثناء على الله تعالى

# د لمانځه دعاګانې



وړاندې

لومړۍ پاڼې ته راګرځېدل

1

«اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْنِي مِنْ خَطَايَايَ بِالثَّلْجِ وَالْمَاءِ وَالْبَرَدِ»

ای الله! زما او زما د ګناهونو تر مینځ دومره لرې والی راوله، لکه څنګه چې دې د ختیځ او لویدیځ تر مینځ لرې والی را وستی دی، ای الله! ما له خپلو ګناهونو داسې پاك كړه لكه څنګه چې سپینه جامه له خیرو  پاكه كړای شي، ای الله! ما له ګناهونو په واوره او اوبو او ږلی سره ووینځه.

دا د لمانځه د پیل له دعاوو څخه ده

## د لمانځه دعاګانې

**2**

«اللَّهُمَّ رَبَّ جَبْرَائِيلَ، وَمِيكَائِيلَ، وَإِسْرَافِيلَ، فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ، عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ، اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِكَ، إِنَّكَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ»

ای الله! د جبرائیل، میکائیل او اسرافیل ربه! د ځمکې او آسمانونو پیداکوونکیه! له ښکاره او پټو باخبره! ته د خپلو بندګانو ترمنځ په هغه څه کښې پریکړه کوونکی یې چې په څه کښې هغوی اختلاف کولو، ما ته له دې

اختلافه په خپل امر د هغه څه لارښوونه وکړه چې حق وي، ته چې چاته وغواړې نېغې لارې ته یې لارښوونه کوې.

دا د لمانځه د پیل له دعاوو څخه ده په ځانګړي ډول د تهجد د لمانځه لپاره او هغه مهال ویل کیږي چې کله حق او باطل نه معلومیږي او زړه ته شبهات لاره پیدا کړي.

3

«وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا، وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ، إِنَّ صَلَاتِي، وَنُسُكِي، وَمَحْيَايَ، وَمَمَاتِي لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، لَا شَرِيكَ لَهُ، وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الْمَلِكُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَنْتَ رَبِّي، وَأَنَا عَبْدُكَ، ظَلَمْتُ نَفْسِي، وَاعْتَرَفْتُ بِذَنْبِي، فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي جَمِيعًا، إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ، وَاهْدِنِي لِأَحْسَنِ الْأَخْلَاقِ لَا يَهْدِي لِأَحْسَنِهَا إِلَّا أَنْتَ، وَاصْرِفْ عَنِّي سَيِّئَهَا لَا يَصْرِفُ عَنِّي سَيِّئَهَا إِلَّا أَنْتَ، لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ كُلُّهُ فِي يَدَيْكَ، وَالشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ، أَنَا بِكَ وَإِلَيْكَ، تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ»

ما خپل مخ هغه ذات ته وګرځوو چې آسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي، په داسې حال کې چې د حق دين ملګرى يم، او له مشرکانو څخه نه يم، په رېښتيا زما لمونځ، قرباني، ژوند او مرګ يوازې د هغه الله لپاره دي چې د مخلوقاتو پالونکى دى، شريک نه لري، او ماته پردې امر شوى، او زه له مسلمانانو يم. اې الله! ته پاچا يې، له تا پرته بل د عبادت وړ نشته، ته زما پالونکى يې، او زه دې بنده يم، پر خپل ځان مې ظلم کړى، او په خپله ګناه اقرار کوم، نو زما ټول ګناهونه راته وبښه، په رېښتيا چې ګناهونه له تا پرته بل څوک نشي بښلى، د ښو اخلاقو لارښوونه راته وکړه، او ښو اخلاقو ته يوازې ته لارښوونه کوې، او

بد اخلاق را څخه لرې کړه، بد اخلاق را نه يوازې ته لرې کولی شې، ستا بلنه مې منلې ده، او ستا خدمت ته ولاړ يم، خير ټول ستا په لاسونو کې دی، او شر تا لره شر نه دی، او په تا مې تکيه ده، او تاته به درځم، ته دې برکت ښبتن يې او اوچت يې، له تا نه بښنه غواړم، او تا ته توبه باسم.

## دا د لمانځه د پيل له دعاوو څخه ده په ځانګړې ډول د تهجد د لمانځه لپاره

4

«سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي»

ای الله! زمونږ پالونکیه! تا په پاکۍ سره یادوم او ستا ستاینه کوم، اې الله! ما ته ښښنه وکړه.

دا دعا په رکوع او سجده کې ویل کیږي

5

«اللَّهُمَّ أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ»

اې الله! زه ستا په رضا ستا له غضبه، او ستا په عافيت ستا له عذابه، او په تا له تا څخه پناه غواړم، زه ستا پوره ستاينه نشم کولای، ته همغسې يې لکه څنګه چې دې د ځان ستاينه کړې ده.

دا دعا په سجده کې ويل کيږي

6

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي كُلَّهُ دِقَّهُ، وَجِلَّهُ، وَأَوَّلَهُ وَآخِرَهُ وَعَلَانِيَتَهُ وَسِرَّهُ»

اې الله! ماته وبښه زما ټول ګناهونه، واړه او لوی، لومړني او وروستني، ښکاره او پټ.

دا دعا په سجده کې ویل کیږي

7

«اللَّهُمَّ اجْعَلْ لِي فِي قَلْبِي نُورًا، وَفِي لِسَانِي نُورًا، وَفِي سَمْعِي نُورًا، وَفِي بَصَرِي نُورًا، وَمِنْ فَوْقِي نُورًا، وَمِنْ تَحْتِي نُورًا، وَعَنْ يَمِينِي نُورًا، وَعَنْ شِمَالِي نُورًا، وَمِنْ بَيْنِ يَدَيَّ نُورًا، وَمِنْ خَلْفِي نُورًا، وَاجْعَلْ فِي نَفْسِي نُورًا، وَأَعْظِمْ لِي نُورًا»

ای الله! زما په زړه کښې نور (رڼا) پیدا کړه، او زما په ژبه کښې نور پیدا کړه، او زما په غوږونو کښې نور پیدا کړه، او زما په سترګو کښې نور پیداکړه، او زما د پاسه رڼا کړه،، او زما لاندې رڼا کړه، او زما ښي اړخ ته نور پیدا کړه او

زما کینې خواته نور پیدا کړه او زما مخې ته نور پیدا کړه او زما شاته نور پیدا کړه، او زما په نفس کې نور پیدا کړه او ماته زما نور لوی وګرځوه.

## دا دعا په سجده کې ویل کیږي په ځانګړي ډول د تهجد په لمانځه کې

8

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ»

اې الله! زه پناه غواړم پر تا د دوزخ له عذابه، د قبر له عذابه، د ژوند او مرګ له فتنونه، او د مسيح دجال د فتنې له شره.

دا دعا په وروستۍ تشهد کې له سلام ګرځولو مخکې ويل کيږي

9

«اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ، وَشُكْرِكَ، وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ»

اې الله! ما سره ستا په ذکر او شکر، او په ښه توګه ستا د عبادت په کولو کې مرسته وکړه.

دا دعا په وروستۍ تشهد کې له سلام اړولو وړاندې ویل کیږي

10

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، وَمَا أَسْرَفْتُ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ»

اې الله! زما هغه ګناه وبښه چې ما وړاندې کړې او هغه چې وروسته مې کړې، په پټه مې کړې او په ښکاره مې کړې، هغه څه چې ما پکې اسراف او زیات والی کړی، اوهغه(ګناه) چې ته په هغه له ما څخه ښه خبر یې، ته وړاندې کوونکی یې او ته وروسته کوونکی یې، له تا پرته بل د عبادت وړ نشته.

دا دعا په وروستۍ تشهد کې له سلام اړولو وړاندې ویل کیږي

11

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْمَأْثَمِ، وَالْمَغْرَمِ»

اې الله! زه پر تا د ګناه او تر قرض لاندې کېدو څخه پنا غواړم.

دا دعا په وروستۍ تشهد کې له سلام اړولو مخکې ویل کیږي

12

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ»

اې الله! زه ستا څخه جنت غواړم او پر تا له دوزخ (له اور) څخه پناه غواړم.

دا دعا په وروستۍ تشهد کې له سلام اړولو مخکې ويل کيږي

13

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ الْبُخْلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ الْجُبْنِ وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ»

اې الله! زه پر تا له بخیلۍ پناه غواړم او زه پر تا له بې زړه توبه پناه غواړم، او پر تا له دې پناه غواړم چې تېر عمر ته ورسول شم، او پر تا د دنیا له فتنې پناه غواړم، او پر تاد قبر له عذابه پناه غواړم.

دا دعا په وروستۍ تشهد کې له سلام اړولو مخکې ویل کیږي

## 14

«اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ، فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ، وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ»

اې الله! ما پر خپل ځان ډېر ظلم کړی، او بې له تا بل څوک ګناهونه نشي ښښلی، نو ماته له خپل لوري ښښنه وکړه، او پر ما رحم وکړه، په رېښتیا همدا ته ښښونکی مهربان يې.

دا دعا په لمانځه کې د سجدې پر مهال او له وروستي تشهد وروسته له سلام اړولو مخکې ویل کیږي.

15

«اللَّهُمَّ حَاسِبْنِي حِسَابًا يَسِيرًا»

اې الله! له ما سره (د قيامت په ورځ) آسانه حساب وکړه.

دا دعا په لمانځه کې د سجدې پر مهال او له وروستۍ تشهد وروسته له سلام اړولو وړاندې ويل کيږي

16

«رَبِّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ»

ای زما پالونکیه! ما له خپل عذابه په هغه ورځ وژغوره په کومه ورځ چې ته خپل بندګان بیا را ژوندي کوې.

دا دعا په لمانځه کې د سجدې پر مهال او له وروستۍ تشهد وروسته له سلام اړولو وړاندې ویل کیږي.

صَحِيحُ الدُّعَاءِ وَالثَّنَاءِ عَلَى اللهِ تَعَالَى

# نبوي دعاوې



وړاندې

لومړۍ پاڼې ته راګرځېدل

1

«اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً، وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ»

ای زموږ پالونکيه! موږ ته په دنيا کې نيکي راکړه، او په آخرت کې نيکي راکړه، او د دوزخ له عذابه مو وساته.

دا دعا به نبي ﷺ ډېره غوښتله

2

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَعَافِنِي، وَارْزُقْنِي»

اې الله! ما ته بښنه وکړه، او پر ما رحم وکړه، او لارښوونه راته وکړه، او ما ته سلامتي را کړه، او روزي را کړه.

دا دعا د دنیا او آخرت ښیګڼې را ټولوي

3

«اَللّٰهُمَّ اكْفِنِيْ بِحَلاَلِكَ عَنْ حَرَامِكَ وَاَغْنِنِيْ بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ»

اې الله! حلاله روزي راته کافي کړه او (پردې مې له) حرامو وژغوره، او پر خپل فضل مې د نورو له اړتیا وساته.

دا د پور ادا کولو دعا ده

4

«اللَّهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوبِ صَرِّفْ قُلُوبَنَا عَلَى طَاعَتِكَ» «يَا مُقَلِّبَ القُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ»

اې الله! د زړونو ګرځوونکيه زموږ زړونه ستا پیروۍ ته وګرځوه.(اې د زړونو اړوونکيه زموږ زړونه ستا پر دین ټینګ کړه.)

دا پر حق د ثبات دعا ده چې نبي ﷺ به ډېره کوله.

5

«اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنَ الْخَيْرِ كُلِّهِ عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الشَّرِّ كُلِّهِ، عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ مَا عَلِمْتُ مِنْهُ، وَمَا لَمْ أَعْلَمْ، اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا سَأَلَكَ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ ﷺ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَاذَ مِنْهُ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ، اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ، وَأَسْأَلُكَ أَنْ تَجْعَلَ كُلَّ قَضَاءٍ تَقْضِيهِ لِي خَيْرًا»

اې الله! زه له تا څخه د هرې ښېګڼې سوال کوم، کومه چې زر راتلونکې وي او کومه چې وروسته راتلونکې وي، که زه له هغې خبر وم او که نا خبر، او زه پر تا د هر شره پناه غواړم کوم چې زر راتلونکی وي او کوم چې وروسته راتلونکی وي، که زه ترې خبر وم او که نا خبره، اې الله! زه له تا د هر هغه خير غوښتنه کوم، کوم چې له تا څخه ستا بنده او نبي (محمد ﷺ) غوښتی دی، او زه پر تا له هغه شره پناه غواړم له کومه چې ستا بنده او نبي (محمد ﷺ) له تا پناه غوښتې ده، اې الله! زه له تا جنت او هر هغه وینا او کړنه غواړم کوم چې جنت ته نيږدې کول کوي، او زه پر تا د اور او هر هغه وینا او عمل څخه پناه غواړم

کوم چې اور ته نیږدې کول کوي. او زه ستا څخه ددې سوال کوم چې کومه پریکړه ته زما په حق کې کوې هغه ماته غوره وګرځوه.

## دا د بشپړه او هراړخیزه دعاوو له ډلې څخه ده

6

«يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ، أَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ، وَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ»

ای د کامل ژوند څښتنه! ای د کایناتو تدبیروونکیه! ستا رحمت ته فریاد کوم او مرسته غواړم، زما ټول کارونه برابر کړه، او ما خپل نفس ته د سترګې د رپ په اندازه هم مه سپاره.

دا د غم او پریشانۍ لرې کولو دعا ده

7

«اللَّهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ ابْنُ عَبْدِكَ ابْنُ أَمَتِكَ نَاصِيَتِي بِيَدِكَ مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ، أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيعَ قَلْبِي وَنُورَ بَصَرِي وَجِلَاءَ حُزْنِي وَذَهَابَ هَمِّي»

اې الله! زه ستا بنده، ستا د بنده زوی، ستا د مینځې زوی یم، زما د تندي وېښتان ستا په لاس کې دي، ستا حکم پر ما جاري دی، ستا پرېکړه زما په حق کې عادلانه ده، ستا پر

هر هغه نوم له تا نه سوال کوم، چې تا خپله خپل ځان پرې نومولی دی، او یا دې په خپل کتاب کې نازل کړی دی، او یا دې له خپل مخلوقه چا ته ښودلی دی، او یا دې په خپل غیبي علم کې له ځان سره ساتلی دی، په دې ټولو درنه سوال کوم چې قرآنکریم زما د زړه پسرلی، او د سینې روښنايي، او زما دسترګو نور وګرځوه او زما د غمونو ورکوونکی، او د پرېشانیو ختموونکی وګرځوه.

## دا د غم او خپګان لرې کولو دعا ده

8

«اللَّهُمَّ لَا سَهْلَ إِلَّا مَا جَعَلْتَهُ سَهْلًا، وَأَنْتَ تَجْعَلُ الْحَزْنَ سَهْلًا إِذَا شِئْتَ»

اې الله! هيڅ آسانه شی نشته، مګر هغه چې ته يې آسان کړې، او ته چې وغواړې سخت آسانوې.

دا د کارونو د آسانتيا دعا ده

9

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالتُّقَى، وَالْعَفَافَ وَالْغِنَى»

اې الله! زه له تا څخه د هدايت، ځان ساتنې، پاک لمنۍ او له خلکو د بې نيازه کېدو غوښتنه کوم.

10

«اللَّهُمَّ اهْدِنِي، وَسَدِّدْنِي»

اې الله! ماته هدايت وکوه او کارونه مې برابر کړه.

## 11

«اللَّهُمَّ أَصْلِحْ لِي دِينِي الَّذِي هُوَ عِصْمَةُ أَمْرِي، وَأَصْلِحْ لِي دُنْيَايَ الَّتِي فِيهَا مَعَاشِي، وَأَصْلِحْ لِي آخِرَتِي الَّتِي فِيهَا مَعَادِي، وَاجْعَلِ الْحَيَاةَ زِيَادَةً لِي فِي كُلِّ خَيْرٍ، وَاجْعَلِ الْمَوْتَ رَاحَةً لِي مِنْ كُلِّ شَرٍّ»

اې ربه! زما هغه دين را سم کړه، چې د ژوند ساتندوی مې دی. او هغه دنيا مې را سمه کړه، چې پکښې هستوګنه مې ده. او هغه اخرت مې برابر کړه، چې ورتله مې دي. او په ژوند کې مې د هر خير له پلوه زيادت راوله. او مړينه مې له هر شره د ارام لامل کړه.

12

«اللَّهُمَّ إِنَّكَ عُفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي»

اې الله! بېشکه ته بښونکی يې،
بښنه خوښوې نو ماته بښنه وکړه.

## 13

«اللَّهُمَّ اقْسِمْ لَنَا مِنْ خَشْيَتِكَ مَا يَحُولُ بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَعَاصِيكَ، وَمِنْ طَاعَتِكَ مَا تُبَلِّغُنَا بِهِ جَنَّتَكَ، وَمِنَ الْيَقِينِ مَا تُهَوِّنُ بِهِ عَلَيْنَا مُصِيبَاتِ الدُّنْيَا، وَمَتِّعْنَا بِأَسْمَاعِنَا وَأَبْصَارِنَا وَقُوَّتِنَا مَا أَحْيَيْتَنَا، وَاجْعَلْهُ الْوَارِثَ مِنَّا، وَاجْعَلْ ثَأْرَنَا عَلَى مَنْ ظَلَمَنَا، وَانْصُرْنَا عَلَى مَنْ عَادَانَا، وَلاَ تَجْعَلْ مُصِيبَتَنَا فِي دِينِنَا، وَلاَ تَجْعَلِ الدُّنْيَا أَكْبَرَ هَمِّنَا وَلاَ مَبْلَغَ عِلْمِنَا، وَلاَ تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لاَ يَرْحَمُنَا»

اې الله! مونږ ته خپله داسې وېره را په برخه کړه کومه چې زمونږ او ستا د سرغړونې تر منځ خنډ وګرځي، او مونږ ته خپله داسې پيروي را

په برخه کړه د کوم له لارې چې مونږ تر خپل جنت پورې ورسوو، او مونږ ته داسې باور را په برخه کړه د کوم په مرسته چې پر مونږ د دنیا ستونزې آسانه کړې، اې الله! ته مونږ ته زمونږ د غوږونو، زمونږ د سترګو او د قوتونو له لارې ګټه را ورسوه، ترڅو مو ژوندې ساتې دا (حواس) زمونږ لپاره سلامت لره، او څوک چې پر مونږ ظلم کوي له هغوی زمونږ غچ واخله، او څوک چې زمونږ سره دښمني کوي د هغوی پر خلاف مو سره مرسته وکړه، او مونږ د دين په چارو کې په فتنه کې مه اچوه، او دنیا زمونږ لپاره تر ټولو لویه موخه او د پوهې پای مه ګرځوه، او پر مونږ داسې څوک مه مسلطه وه چې پر مونږ رحم ونه لري.

14

«رَبِّ أَعِنِّي وَلاَ تُعِنْ عَلَيَّ، وَانْصُرْنِي وَلاَ تَنْصُرْ عَلَيَّ، وَامْكُرْ لِي وَلاَ تَمْكُرْ عَلَيَّ، وَاهْدِنِي وَيَسِّرِ الهُدَى لِي، وَانْصُرْنِي عَلَى مَنْ بَغَى عَلَيَّ، رَبِّ اجْعَلْنِي لَكَ شَكَّارًا، لَكَ ذَكَّارًا، لَكَ رَهَّابًا، لَكَ مِطْوَاعًا، لَكَ مُخْبِتًا، إِلَيْكَ أَوَّاهًا مُنِيبًا، رَبِّ تَقَبَّلْ تَوْبَتِي، وَاغْسِلْ حَوْبَتِي، وَأَجِبْ دَعْوَتِي، وَثَبِّتْ حُجَّتِي، وَسَدِّدْ لِسَانِي، وَاهْدِ قَلْبِي، وَاسْلُلْ سَخِيمَةَ صَدْرِي».

اې زما پالونکیه! مرسته مې وکړه او زما پر خلاف د چا مرسته مه کوه، کومک مې وکړه او زما پر خلاف د چا سره کومک مه کوه،

زما لپاره ښه تدبير جوړ كړه او زما پر خلاف چاته تدبير مه وركوه، او ماته لارښوونه وكړه او زما لپاره د لارښوونې لاره آسانه كړه، او څوك چې پر ما ظلم وكړي د هغه پر خلاف زما سره كومک وكړه، اې زما پالونكيه! ما د خپل ځان لپاره شكر كوونكى، په كثرت سره ذكر كوونكى، ستا څخه ډېر وېرېدونكى، ستا فرمانبرداره، او تاته عاجزي كوونكى، ستا پناه غوښتونكى او تاته رجوع كوونكى وګرځوه. اې زما پالونكيه! زما توبه قبوله كړه، زما ګناه ووينځه، زما دعا قبوله كړه، زما حجت قائم كړه، زما ژبه سمه كړه، زما زړه ته لارښوونه وكړه، او زما د زړه كينه لرې كړه.

## 15

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِعْلَ الخَيْرَاتِ، وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ، وَحُبَّ الْمَسَاكِينِ، وَأَنْ تَغْفِرَ لِي وَتَرْحَمَنِي، وَإِذَا أَرَدْتَ فِتْنَةً فِي قَوْمٍ فَتَوَفَّنِي غَيْرَ مَفْتُونٍ، وَأَسْأَلُكَ حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ، وَحُبَّ عَمَلٍ يُقَرِّبُ إِلَى حُبِّكَ»

اې الله! زه له تا څخه د ښوکارونو کولو، د بدو کارونو پرېښودلو، د مسکینانو سره د مینې درلودلو او د دې خبرې سوال کوم چې ماته ښښنه وکړه او پر ما رحم وکړه، او کله چې د کوم قوم د آزمویښت اراده وکړې نو ما خپل ځان ته په داسې حال کې وغواړه(مړ کړه)

چې له فتنې ساتل شوی وم، او زه ستا څخه ستا د محبت سوال کوم او د هغه چا دمحبت سوال کوم څوک چې ستا سره محبت کوي، او د هغه عمل سوال کوم چې ستا محبت ته نیږدې کول کوي.

نبي ﷺ ددې دعا ګانو په اړه فرمايي: دا ریښتینې دعاوې دي دا ولولئ بیایې زده کړئ.

16

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الثَّبَاتَ فِي الْأَمْرِ، وَالْعَزِيمَةَ عَلَى الرُّشْدِ، وَأَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ، وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ شُكْرَ نِعْمَتِكَ، وَحُسْنَ عِبَادَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ قَلْبًا سَلِيمًا، وَلِسَانًا صَادِقًا، وَأَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا تَعْلَمُ، وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا تَعْلَمُ، إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ»

اې الله! زه له تا څخه په کارونو کې د ثبات غوښتنه کوم، او پر لارښوونه د پاتې کېدو،

او له څخه ستا د رحمت او ستا د مغفرت د لاملونو غوښتنه کوم، او له تا څخه ستا د نعمت د شکر اداکولو او په ښه توګه ستا د عبادت کولو غوښتنه کوم، او له تا د سالم زړه او رېښتینې ژبې سوال کوم، او کوم خیر چې تاته معلوم دی دهغو غوښتنه درنه کوم، او کوم شر چې درته معلوم دی له هغو پناه درنه غواړم، او څه (تېروتنې) چې تاته معلومې دي د هغو بښنه درنه غواړم، بیشکه همدا ته پر ټولو پټو پوه یې.

په حدیث کې راغلي چې دا دعا د سرو او سپینو زرو له خزانې غوره ده.

17

«اللَّهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ، وَعَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ، وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ، وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ، وَقِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ، إِنَّكَ تَقْضِي وَلَا يُقْضَى عَلَيْكَ، إِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ، وَلَا يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ، تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ»

اې الله! د هغو کسانو په ډله کې چې تا ورته لارښوونه کړې ما ته هم لارښوونه وکړه، او د هغو کسانو په ډله کې چې تا ورته عافيت ورکړی ما ته هم عافيت راکړه، ما هم له شره وساته او د هغو کسانو په ډله کې چې تا ساتلي

ما هم وساته، او څه چې دې راکړي په هغه کې راته برکت واچوه، او څه چې تا پرېکړه کړې، د هغه له شره مې وساته، ځکه همدا ته پرېکړه کوونکی یې، او ستا د پرېکړې څوک مخنیوونکی نشته، په رېښتیا چې ته له چا سره دوستي وکړې، هغه به خوار نشي، او له چا سره چې دښمني وکړې، هغه به عزتمند نشي، ته مبارک ذات یې، او د لویۍ څښتن یې، ای زموږ پالونکیه!.

18

«اللَّهُمَّ بِعِلْمِكَ الْغَيْبَ، وَقُدْرَتِكَ عَلَى الْخَلْقِ، أَحْيِنِي مَا عَلِمْتَ الْحَيَاةَ خَيْرًا لِي، وَتَوَفَّنِي إِذَا عَلِمْتَ الْوَفَاةَ خَيْرًا لِي، وَأَسْأَلُكَ خَشْيَتَكَ فِي الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، وَكَلِمَةَ الْإِخْلَاصِ فِي الرِّضَا وَالْغَضَبِ، وَأَسْأَلُكَ نَعِيمًا لَا يَنْفَدُ، وَقُرَّةَ عَيْنٍ لَا تَنْقَطِعُ، وَأَسْأَلُكَ الرِّضَاءَ بِالْقَضَاءِ، وَبَرْدَ الْعَيْشِ بَعْدَ الْمَوْتِ، وَلَذَّةَ النَّظَرِ إِلَى وَجْهِكَ، وَالشَّوْقَ إِلَى لِقَائِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ ضَرَّاءَ مُضِرَّةٍ، وَفِتْنَةٍ مُضِلَّةٍ، اللَّهُمَّ زَيِّنَّا بِزِينَةِ الْإِيمَانِ، وَاجْعَلْنَا هُدَاةً مُهْتَدِينَ»

اې الله! د خپلې پټې پوهې او پر مخلوق دې د خپل قدرت سره ما تر هغه ژوندی لره ترڅو

چې ژوند زما لپاره غوره وي، او هغه وخت مې مړ کړه کله چې زما لپاره مرګ غوره وي. اې الله! زه له تا څخه په ښکاره او پټه کې ستا د وېرې سوال کوم، او د خوښۍ او غوسې په حالت کې د حق ویلو سوال درنه کوم، او ستا څخه د نه ختمېدونکي نعمت او د سترګو لپاره د نه پرې کېدونکي یخ والي غوښتنه کوم، او له تا څخه ستا په کړې پرېکړه د رضامندۍ او له مرګ څخه وروسته د سلامتۍ د ژوند، او ستا مخ ته د کتلو د لذت او ستا ملاقات ته د لېوالتیا لرلو غوښتنه کوم، او له تا د دې پناه غواړم چې کوم زیانمن کړاو او یا لارورکوونکې فتنه راته ورسیږي، اې الله! مونږ د ایمان پر ښایست ښایسته کړه او مونږ هدایت لرونکي او لارښوونکي جوړ کړه.

19

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، اللَّهُمَّ أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي وَمَالِي، اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِي، وَآمِنْ رَوْعَاتِي، اللَّهُمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ، وَمِنْ خَلْفِي، وَعَنْ يَمِينِي، وَعَنْ شِمَالِي، وَمِنْ فَوْقِي، وَأَعُوذُ بِعَظَمَتِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي»

اې الله! زه له تا په دنیا او آخرت کې د ښېنې او سلامتۍ غوښتنه کوم، اې الله! زه له تا په خپل دین او دنیا کې او په خپل اهل او مال کې د معافۍ او سلامتۍ غوښتنه کوم، اې الله!

زما عیبونه پټ کړه، او وېره را څخه لرې کړه، اې الله! ما له مخې نه، له شا نه، له ښي خوا نه، له چپې خوا نه، او له پورته خوا نه وساته، او زه ستا په لویی سره له دې نه پناه غواړم چې د لاندې خوا نه ناڅاپه (په پټه) تباه شم.

صحيح الدعاء والثناء على الله تعالى

# د پناه غوښتنې نبوي دعاوې



وړاندې

لومړۍ پاڼې ته راګرځېدل

1

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ وَشَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ»

اې الله! زه له تا د هغه کار له شره پناه غواړم، کوم چې ما کړی او د هغه کار له شره پناه غواړم کوم چې ما نه دی کړی.

دا د نبي ﷺ له هغه دعاوو څخه ده چې ډېره به یې غوښته.

2

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أُشْرِكَ بِكَ وَأَنَا أَعْلَمُ، وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَا أَعْلَمُ»

اې الله! زه پناه غواړم پر تا له دې چې شریک ونیسم له تا سره په داسې حال کې چې زه پوهېږم، او بښنه غواړم پر کومو چې نه پوهېږم.

له ریا څخه د ځان ژغورنې دعا

3

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ، وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِكَ، وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ، وَجَمِيعِ سَخَطِكَ»

اې الله! زه پر تا ستا د نعمت له زوال څخه پناه غواړم، او ستا د راکړې روغتیا له بدلېدو (پر ناروغۍ د اخته کېدو) څخه، او ستا د ناڅاپي نیونې (مواخذې) او ستا د هر ډول نا خوښۍ څخه پناه غواړم.

4

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ مُنْكَرَاتِ الأَخْلاَقِ، وَالأَعْمَالِ، وَالأَهْوَاءِ، وَالْأَدْوَاءِ»

اې الله! زه پر تا له بدو اخلاقو، ناوړه کارونو، بدو غوښتنو، او زیان رسوونکو ناروغیو څخه پناه غواړم.

5

«اللَّهمَّ إنِّي أَعُوْذُ بِكَ مِنْ جَهْدِ البَلاَءِ، وَدَرَكِ الشَّقَاءِ، وَسُوءِ الْقَضَاءِ، وَشَمَاتَةِ الأَعْدَاءِ»

اې الله! زه پناه غواړم پر تا د کړاو له سختوالي، د بدبختۍ رسېدلو، د بد تقدير، او (پر ما) د دښمن د زړه يخېدو څخه.

6

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ، وَالْكَسَلِ، وَالْجُبْنِ، وَالْبُخْلِ، وَالْهَرَمِ، وَعَذَابِ الْقَبْرِ اللَّهُمَّ آتِ نَفْسِي تَقْوَاهَا، وَزَكِّهَا أَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا، أَنْتَ وَلِيُّهَا وَمَوْلَاهَا، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ، وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ، وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ، وَمِنْ دَعْوَةٍ لَا يُسْتَجَابُ لَهَا»

اې الله! زه پناه غواړم پر تا له بې وسۍ، سستۍ، بې زړه توب، له بخيلۍ، زوړتوب (تيرعمر)، او د قبر له عذاب څخه. اې الله! زما نفس ستا وېره ور په برخه کړه او هغه پاک کړه، ته د

هغې تر ټولو ښه پاکوونکی یې، او ته د هغې دوست او څښتن یې. اې الله! زه پنا غواړم پر تا له داسې علم څخه چې ګټه ونه لري او له داسې زړه څخه چې په هغې کې (ستا) وېره نه وي، او له داسې نفس څخه چې مړښت نه لري، او له داسې دعا څخه چې نه قبلیږي.

7

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَمِّ وَالحَزَنِ، وَالعَجْزِ وَالكَسَلِ، وَالبُخْلِ وَالجُبْنِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ»

اې الله! زه پناه غواړم پر تا له غم او پرېشانۍ څخه، او پناه غواړم پر تا له کمزورتیا او لټۍ څخه، او پناه غواړم پر تا له بخیلۍ او بې زړه توب څخه، او پناه غواړم پر تا له پور زیاتېدو او د سړو له برلاسي څخه.

8

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ سَمْعِي، وَمِنْ شَرِّ بَصَرِي، وَمِنْ شَرِّ لِسَانِي، وَمِنْ شَرِّ قَلْبِي، وَمِنْ شَرِّ مَنِيِّي»

اې الله! زه پناه غواړم پر تا د خپلو غوږونو له شره، د خپلو سترګو له شره، د خپلې ژبې له شره، د خپل زړه له شره، او د خپل شرمځای (شهوت) له شره.

9

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ النَّارِ وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْغِنَى، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْفَقْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ»

اې الله! زه پر تا پناه غواړم د اور له فتنې او د اور له عذابه، او پر تا پنا غواړم د قبر له فتنې څخه، او پر تا پناه غواړم د قبر له عذابه، او پر تا د مالدارۍ له فتنې څخه پناه غواړم، او پر تا پناه غواړم د فقر له فتنې څخه، او پر تا د مسیح دجال له فتنې څخه پناه غواړم.

10

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِعِزَّتِكَ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، أَنْ تُضِلَّنِي، أَنْتَ الْحَيُّ الَّذِي لَا يَمُوتُ، وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ يَمُوتُونَ»

اې الله! زه ستا پر عزت له دې پناه غواړم چې لارورکی شم، له پرته څوک د عبادت وړ نشته، ته هغه ژوندی ذات یې چې کله هم مرګ نه پرې راځي، او پېریان او انسانان مړه کېږي.

11

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبَرَصِ، وَالْجُنُونِ، وَالْجُذَامِ، وَمِنْ سَيِّئِ الْأَسْقَامِ»

اې الله! زه پر تا د برګي (پيس) ناروغۍ او ليونتوب او جذام ناروغۍ او له ټولو بدو ناروغيو پناه غواړم.

12

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ يَوْمِ السَّوْءِ، وَمِنْ لَيْلَةِ السَّوْءِ، وَمِنْ سَاعَةِ السَّوْءِ، وَمِنْ صَاحِبِ السَّوْءِ، وَمِنْ جَارِ السَّوْءِ فِي دَارِ الْمُقَامَةِ»

اې الله! زه پر تا له بدې ورځې، بدې شپې، بدې ګړۍ(ساعت)، بد ملګري او په استوګنځي کې له بد ګاونډي څخه پناه غواړم.

13

«أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الْفِتَنِ، مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ»

زه پر الله له ښکاره او پټو فتنو څخه پناه غواړم.

صحيح الدعاء والثناء على الله تعالى

# د شرعي دم دعاوې



وړاندې

لومړۍ پاڼې ته راګرځېدل

د شرعي دم دعاوې

1

د الفاتحه سورت اوه (٧) ځله لوستل.

﴿أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، بِسْمِ
ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ١ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ
ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ٣ مَٰلِكِ يَوۡمِ
ٱلدِّينِ ٤ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ٥
ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ٦ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ
أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ
وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ٧﴾ [الفاتحة:١-٧]

زه پر الله د رټل شوي شیطان څخه پناه غواړم

پیل کوم د الله پر نوم چې ډېر مهربان او بښونکی دی.

ټوله ستاینه یوازې الله لره ده، چې د ټولو کایناتو پالونکی دی، ډېر زیات مهربان او رحم لرونکی دی. د جزا د ورځې څښتن دی. مونږ همدا ستا عبادت کوو او هم دا ستا څخه مرسته غواړو. مونږ ته سمه لاره وښیه، د هغه کسانو لار چې تا پرې پېرزوینه کړې ده، نه دې هغه کسانو لاره چې غضب پرې شوی او نه د بې لارې شوو خلکو لار.

## 2

## آية الکرسي یو ځل

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ٢٥٥﴾ [البقرة:٢٥٥]

«الله (هغه بر حق معبود دی چې) له هغه پرته بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه تل

ژوندی دی، (د کائناتو) تدبیروونکی دی، نه پر هغه پرکالي راځي او نه خوب، څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي ټول هغه لره دي، نشته څوك چې د ده پر وړاندې بې پرته د هغه له اجازې (د چا لپاره) شفاعت وکړي، پوهیږي پر هغه څه چې له هغوی وړاندې دي، او پر هغه څه چې له هغوی وروسته دي، او (هغوی) د ده له پوهې په هیڅ شي احاطه نشي کولای، مګر کوم شی چې الله وغواړي، کرسي یې پر آسمانونو او ځمکې چاپېره ده، او د (آسمانونو او ځمکې) ساتل هغه نه ستړی کوي، او هغه لوړ او لوی دی».

[البقرة: ٢٥٥]

3

د سورت اخلاص او معوذتين (د الفلق، الناس سورتونه) لوستل او بيا په دوارو لاسونو کې چف کول او پر هغو د درد ځای مسحه کول، دا (عمل) به درې ځله تکرار کړي.

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ٢ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ٣ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ٤﴾ [سورة الإخلاص]

«ووايه (ای محمده!): دا چې الله ايکې يو دی، الله بې نيازه دی، نه يې څوك زيږولي، او نه له چا نه زيږېدلی، او هيڅوك هغه لره سيال نشته».

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ١ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ٢ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ٣ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ ٤ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ٥﴾ [سورة الفلق]

«ووایه (ای محمده!): پناه غواړم پر پالونکي د سهار، د هغه څه د شره چې ده پیدا کړي دي، او د تیارې شپې له شره چې کله تکه توره شي، او د پوکي کوونکیو (جادوګرو) ښځو له شره (چې پوکل کوي) په غوټو کې، او د حسد کوونکي له شره چې کله حسد وکړي».

## د شرعي دم دعاوې

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ١ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ٢
إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ٣ مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ ٤
ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ ٥ مِنَ
ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ٦﴾ [سورة الناس]

«ووايه (اى محمده!): پناه غواړم د خلکو پر پالونکي، د خلکو پر ټولواك د خلکو پر معبود، د وسوسه اچوونکي، پټېدونکي (شیطان) له شره، کوم چې د خلکو په سینو کې وسوسې اچوي، له پیریانو څخه وي، او که له انسانانو څخه».

4

«اللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ أَذْهِبِ البَاسَ، اشْفِ أَنْتَ الشَّافِي، لاَ شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لاَ يُغَادِرُ سَقَمًا»

اې الله! د خلکو پالونکیه ناروغي لرې کړه او شفا ورکړه، همدا ته شفا ورکوونکی یې، ستا له شفا پرته بله شفا نشته، داسې شفا ورکړې چې شاته هیڅ ناروغي پرې نږدي.

پـه ښـی لاس بـه د درد ځای یا مریض مسحه کړي او دا دعا به ووایي

5

«بِسْمِ اللّٰهِ، تُرْبَةُ أَرْضِنَا، بِرِيقَةِ بَعْضِنَا، يُشْفَى سَقِيمُنَا، بِإِذْنِ رَبِّنَا»

پیل کوم د الله پر نوم، دا زمونږ د ځمکې خاوره ده چې زمونږ د ځینو له لاړو سره به د ناروغ لپاره زمونږ د پالونکي په خوښه شفا ګرځي.

خپلې لاړې به پر خپله ګوته را واخلي او بیا به یې پر خاوره ووهي بیا دې د درد ځای او زخم پرې مسحه کړي او دا دعا دې ووایي.

6

«بِاسْمِ اللّٰهِ» «أَعُوذُ بِاللّٰهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ»

د الله پر نوم پیل کوم، زه د الله (پر نوم) او د هغه په قدرت  د هغه تکلیف له شره چې زه یې (په جسم کې) لرم او ډار ترې لرم پناه غواړم.

خپل لاس به په دې درد پر ځای کېږدې او درې ځله به (بسم الله) ووایې او بیا به اووه ځله دا دعا ووایې. «أَعُوذُ بِاللّٰهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ».

7

«أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّةِ، مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ، وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لاَمَّةٍ»

زه د الله پر ټولو کاملو کلماتو (بشپړ کلام) له هر شیطان او هر زهر لرونکي حشراتو له شر او د هر لګېدونکي نظر څخه پناه غواړم.

8

«أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ»

زه د الله پر بشپړ کلام دهغه د مخلوقاتو له شره پناه غواړم.

9

«بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ، فِي الْأَرْضِ، وَلَا فِي السَّمَاءِ، وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ»

د هغه الله پر نوم، چې له نوم سره یې هیڅ شی په ځمکه او آسمان کې ضرر نه رسوي، او هغه ښه اوریدونکی، ښه پوه دی.

دري ځله به يې وايي

10

«بِاسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ، مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ، مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ، اللهُ يَشْفِيكَ بِاسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ»

د الله په نوم دې دموم، له هر هغه څه چې درته زيان رسوي، د هر نفس له شره او کينه کښو سترګو، الله دې روغتيا در پېرزو کړي، د الله په نوم دې دموم.

11

«أَسْأَلُ اللهَ الْعَظِيمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيَكَ»

زه د لوی شان لرونکي الله څخه چې د لوی عرش څښتن دی سوال کوم چې تاته شفا درکړي.

اووه ځله به دا (دعا) وایی، که خپل ځان دم کوي نو داسې به وایي «اسْأَلُ اللهَ الْعَظِيمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيْنِي»

# د شرعي دم لپاره څه شروط او یادونې دي چې پاملرنه ورته په کار ده، چې په لاندې ډول دي:

1

دم باید له قرآن کریم او سنتو څخه اخیستل شوی وي او له شرکیاتو او بدعاتو او محرماتو څخه یې الفاظ او طریقه پاکه وي.

2

مسلمان باید له خپل رب سره تعلق جوړ کړي او پر هغه بروسه وکړي او په دې باید پوه شي چې دا دم یوسبب دی د الله له خوښې پرته تاثیر نه لري.

3

دم باید د تجربې په ډول تر سره نه کړي، بلکې د هغې په تاثیر باید ایمان(باور) ولري، دم کوونکی او دم اخیستونکی دواړه باید د دم په تاثیر او پردې باور ولري چې په دې کې دده لپاره شفا ده.

4

د قرآن کریم ټولو آیتونو کې شفا ده، الله تعالی فرمایي: ﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٞ وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ﴾ [الإسراء:٨٢] موږ ددغه قرآن په لړ کې هغه څه نازلوو چې د مومنانو لپاره پکې شفا او رحمت دی.

5

د ناروغ لپاره غوره داده چې په خپله ځان دم کړي، دا د ناروغ لپاره ډېره ګټه لري ځکه چې دی به ډېر په ربښتينولی سره خپله اړتیا او ضرورت خپل رب ته ښکاره کوي، او اخلاص په دم کې تاثیر لري.

صحيح الدعاء والثناء على الله تعالى



# د سهار او ماښام اذکار

وړاندې

لومړۍ پاڼې ته راگرځېدل

1

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ»

نشته د عبادت وړ مګر همدا الله دی چې یو دی او هیڅ شریك نه لري، هغه لره پاچاهي ده، او هغه لره ستاینه ده، او هغه پر هر څه قادر دی.

لس ځله

2

«أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلّٰهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، لاَ إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرِ مَا فِي هَذَا الْيَوم، وَخَيْر مَا بعدِه، وَأَعُوذُ بِك مِنْ شَرِّ مَا فِي هَذا اليَوم، وَشَر مَا بَعْدِه، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ، وَالْهَرَمِ، وَسُوءِ الْكِبَرِ، وَفِتْنَةِ الدُّنْيَا، وَعَذَابِ الْقَبْر»

سبا مو کړ او سبا کړ کائناتو الله لره. ستاینه ټوله الله لره ده. نشته لائق د عبادت مګر همدا الله دی چې یو دی او هیڅ شریك نه لري، اې الله! په دې ورځ کې چې څه خیر

دی، او له دې وروسته چې څه خير دی، زه له تا نه د هغه سوال کوم، او په دې ورځ کې چې څه شر دی، او چې ترې وروسته څه شر دی، له هغه پر تا پناه غواړم، اې الله! پر تا له تنبلۍ، او د اوږده عمر د بدوالي (او د تکبر) څخه پناه غواړم، او د دنيا له فتنې او د قبر له عذابه پناه غواړم.

## دا به له سهاره وايي

«أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلّٰهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، لاَ إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرِ مَا فِي هَذَه اللَّيْلَةِ، وَخَيْر مَا بعدِها، وَأَعُوذُ بِك مِنْ شَرِّ مَا فِي هَذه اللَّيْلَةِ، وَشَر مَا بَعْدِها، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ، وَالْهَرَمِ، وَسُوءِ الْكِبَرِ، وَفِتْنَةِ الدُّنْيَا، وَعَذَابِ الْقَبْر»

ماښام مو کړ، او ماښام کړ کائناتو الله لره، ټوله ستاینه الله لره ده. نشته لائق د عبادت مګر همدا الله دی چې یو دی او هیڅ شریک نه لري، اې الله! په دې ورځ کې چې څه خیر دی، او له دې وروسته چې څه خیر دی، زه له

تا څخه د هغه سوال کوم، او په دې ورځ کې چې څه شر دی، او وروسته چې ترې څه شر دی، له هغه پر تا پناه غواړم، اې الله! پر تا له تنبلۍ، او د اوږده عمر د بدوالي (او د تکبر) څخه پناه غواړم، او د دنیا له فتنې او د قبر له عذابه پناه غواړم.

دا به له ماښامه وايي

3

«اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ خَلَقْتَنِي، وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ»

اې الله! ته مې پالونکی يې، له تا پرته بل د عبادت وړ نشته، تا پیدا کړی يم، او زه دې بنده يم، ا و له خپل توان سره ستا پر عهد او ژمنه ولاړ يم، زه پناه غواړم پر تا د خپلو کړو له شره، زه ستا په هغه نعمت اقرار کوم چې ما ته دې راکړی، او په خپله ګناه اقرار کوم، نو ما ته ببښنه وکړه، چې بې له تا څوک ګناه نشي ببښلای.

4

«اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ»

«اللَّهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ النُّشُورُ»

اې الله! (ستا په حکم سره) مونږ سهار کړو، او (ستا په حکم سره) مو ماښام کړو، او ستا (په حکم سره) ژوند کوو، او ستا (په حکم سره) مرو، او تا لره بیا درتګ (ژوندي کېدل) دي.

او کله چې ماښام شي نو ودې وايي: اې الله! (ستا په حکم سره) مونږ ماښام کړو، او (ستا په حکم سره) مو ماښام کړو، او ستا (په حکم سره) ژوند کوو، او ستا (په حکم سره) مرو، او تا لره بیا در ټولېدل (ژوندي کېدل) دي.

5

«اللَّهُمَّ فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ، عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهِ، وَأَنْ أَقْتَرِفَ عَلَى نَفْسِي سُوءًا، أَوْ أَجُرَّهُ إِلَى مُسْلِمٍ»

اې الله! ای د آسمانونو او ځمکې پیدا کوونکیه! په پټو اوښکاره عالمه! بې له تا بل د عبادت وړ نشته ای د هرشي پالونکیه او واکمنه! زه پر تا د خپل نفس له شره، او د شیطان له شره او له شرکه پناه غواړم، او له دې څخه پناه غواړم چې زه بدي وکړم، اویا (بل) مسلمان ته بدي ورسوم.

6

«بِسْمِ اللهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ»

د هغه الله پر نوم، چې له نوم سره يې هيڅ شی په ځمکه او آسمان کې ضرر نه شي رسوی، او هغه ښه اوريدونکی، ښه پوه دی.

۳ ځله

7

«رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيًّا»

زه پر الله د پالونکي په توګه او پر اسلام د دین په توګه، او پر محمد صلی الله علیه وسلم د نبي په توګه خوښ یم.

8

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ، وَأَهْلِي وَمَالِي، اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِي، وَآمِنْ رَوْعَاتِي، اللَّهُمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ وَمِنْ خَلْفِي، وَعَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي، وَمِنْ فَوْقِي، وَأَعُوذُ بِعَظَمَتِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي»

اې الله! زه له تا نه په دنيا او آخرت کې د معافۍ او سلامتۍ سوال کوم، اې الله! زه له تا نه په خپل دين او دنيا کې او په خپل اهل او مال کې د معافۍ او سلامتۍ سوال کوم،

اې الله! زما عیبونه پټ کړه، او ویره را نه لرې کړه، اې الله! ما د مخې نه، او د شا نه، او د ښي خوا نه، او د چپې خوا نه، او د پورته خوا نه وساته، او زه ستا په لویی سره له دې نه پناه غواړم چې د لاندې خوا نه ناڅاپه (په پټه او بې خبری کې) تباه شم.

9

«أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ»

د الله پر بشپړ کلام د هغو د مخلوقاتو له شره پناه غواړم.

10

«أَصْبَحْنَا عَلَى فِطْرَةِ الْإِسْلَامِ، وَكَلِمَةِ الْإِخْلَاصِ، وَدِينِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَمِلَّةِ أَبِينَا إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا، وَمَا كَانَ مِنْ الْمُشْرِكِينَ»

مونږ سهار کړو پر فطرت د اسلام، پر کلمه د اخلاص، پر دین د محمد او زمونږ د پلار ابراهیم پر تګلاره چې حق ته مایل و، او له مشرکانو څخه نه و.

دا به سهار وايي

«أَمْسَيْنَا عَلَى فِطْرَةِ الإِسْلاَمِ، وَكَلِمَةِ الْإِخْلَاصِ، وَدِينِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَمِلَّةِ أَبِينَا إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا، وَمَا كَانَ مِنْ الْمُشْرِكِينَ»

مونږ ماښام کړو پر فطرت د اسلام، پر کلمه د اخلاص، پر دين د محمد او زمونږ د پلار ابراهيم پر تګلاره چې حق ته مايل و، او له مشرکانو څخه نه و.

دا به له ماښامه وايي

11

«يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ أَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ، وَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ»

ای د بشپړ ژوند خښتنه! ای د کایناتو تدبیروونکیه! ستا رحمت سره فریاد کوم او مرسته درنه غواړم، زما ټول کارونه برار کړه، او ما نفس (نفسي غوښتنو) ته د سترګې د رپ په اندازه هم مه سپاره.

12

«حَسْبِيَ اللهُ لاَ إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ»

بس دی ما ته هغه الله چې بې له هغه بل د عبادت وړ نشته، پرهغه مې توکل کړی، او همدی د لوی عرش څښتن دی.

۷ ځله



شاته

لومړۍ پاڼې ته راګرځېدل

# د احادیثو تخریج

## لومړی: د حمد او ستاینې د احادیثو تخریج

1 مسلم (٦٠٠) روایت کړی

2 مسلم (٤٧٧) روایت کړی

3 بیهقي په شعب الایمان کتاب کې (٤٠٨٧) روایت کړی او آلباني په صحیح الترغیب کتاب کې (١٥٧٦) صحیح ګڼلی

4 بخاري (١١٢٠)، (٧٤٤٢)، او مسلم (٧٦٩) روایت کړی

5 مسلم (٢٧١٣) روایت کړی

6 حاکم په خپل مستدرک (١٩٢٠) کې روایت کړی او آلباني په السلسلة (٢٦٧) کې صحیح ګڼلی

7 أبوداود (١٤٩٣) او ترمذي (٣٤٧٥) روایت کړی او ترمذي دا حسن ګڼلی، او آلباني په مشکاة المصابیح (٧٠٨/٢) کې صحیح ګڼلی

8 بخاري (٦٣٤٥) او مسلم (٢٧٣٠) روایت کړی

9 أبوداود (١٥٢٥) او ابن ماجه (٣٣٨٢) روایت کړی او آلباني په صحیح الترغیب والترهیب (١٨٢٤) کې صحیح ګڼلی

10 مسلم (٢٦٩٦) روایت کړی

11 ابن ماجه (٣٨٧٨) روایت کړی او آلباني په تخریج د ابن ماجه کې صحیح ګڼلی

12 مسلم (١٢١٨) روایت کړی

13 بخاري (٦٣٠٦) روایت کړی

14 أبوداود (١٤٩٥)، او ترمذي (٣٥٤٤) روایت کړی او آلباني په مشکاة المصابیح (٧٠٨/٢) کې صحیح ګڼلی

15 طبراني په الأوسط (٧٣٢٤) کې روایت کړی او آلباني په الترغیب (١٨٣٩) صحیح ګڼلی

16 أحمد (٢٤/٦) او أبو داود (٨٧٣)، روایت کړی او آلباني په مشکاة المصابیح (١٩٢/١) کې صحیح ګڼلی

17 أبوداود (٨٧٤) او نسائي (١٠٦٩) روایت کړی او آلباني په صحیح سنن النسائي (٢٨٩/٣) کې صحیح ګڼلی

18 مسلم (٦٠١) روایت کړی

## دوهم: د لمانځه د احادیثو تخریج

1 بخاري (٧٤٤)، او مسلم (٥٩٨) روایت کړی

2 مسلم (٧٧٠) روایت کړی

3 مسلم (٧٧١) روایت کړی

4 بخاري (٧٩٤)، او مسلم (٤٨٤) روایت کړی

5 مسلم (٤٨٦) روایت کړی

## د احاديثو تخريج

6 مسلم (٤٨٣) روايت کړی

7 بخاري (٦٣١٦) او مسلم (٧٦٣) روايت کړی

8 بخاري (١٣٧٧) او مسلم (٥٨٨) روايت کړی

9 أبوداود (١٥٢٢)، او نسائي (١٣٠٣) روايت کړی او آلباني په مشكاة المصابيح (٢٩٩/١) صحيح ګڼلی

10 مسلم (٧٧١) روايت کړی

11 بخاري (٧٩٨)، او مسلم (٥٨٩) روايت کړی

12 أبوداود (٧٩٢)، او ابن ماجه (٩١٠) روايت کړی او آلباني په صحيح الجامع الصغير (٦٠٤/١) صحيح ګڼلی

13 بخاري (٢٨٢٢)، (٦٣٩٠) روايت کړی

14 بخاري (٨٣٤)، او مسلم (٢٧٠٥) روايت کړی

15 حاکم په خپل مستدرك کې (١٩٠) روايت کړی او صحيح يې ګڼلی

16 مسلم (٧٠٩) روايت کړی

## دريم: د نبوي دعاګانو د احاديثو تخريج

1 بخاري (٦٣٨٩) او مسلم (٢٦٩٠) روايت کړی

2 مسلم (٢٦٩٧) روايت کړی

3 ترمذي (٣٥٦٣) روايت کړی او حسَّن يې ګڼلی، او آلباني يې هم سند په الصحيحة (١/ ٥٣٢) کې حسن ګڼلی

4 مسلم (٢٦٥٤) روايت کړی، او دا لفظ: (يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ) ترمذي (٣٥٢٢) روايت کړی او ويلي دي چې: «دا حديث حسن دی»

5 أحمد (٦/ ١٣٤)، او ابن ماجه (٢/ ١٢٦٤) روايت کړی او آلباني په صحيح الجامع الصغير (١/ ٢٧٤) کې صحيح ګڼلی

6 ترمذي (٣٥٢٤)، او نسائي په السنن الکبری (٩/ ٢١٢) کې روايت کړی او آلباني په صحيح الجامع (٥٨٢٠ - ١٩١٣) کې حسن ګڼلی

7 أحمد (٤٣١٨)روایت کړی او شیخ الإسلام ابن تیمیة او د هغه شاګرد ابن القیم صحیح ګڼلی، وګورئ: شفاء العلیل پاڼه (٢٧٤)

8 ابن حبان (٩٧٤) روایت کړی او وایي چې په دې باب کې دديې یادونه ده (ذِكْرُ مَا يُسْتَحَبُّ لِلْمَرْءِ سُؤَالُ الْبَارِي جَلَّ وَعَلَا تَسْهِيلَ الْأُمُورِ عَلَيْهِ إِذَا صَعُبَتْ) (چې کله په یو کس کارونه سخت شي نو د هغه لپاره مستحب ده چې د الله تعالی څخه د هغې د آسانتیا سوال وکوي) آلباني دا په الصحیحة (٢٨٨٦) کې صحیح ګڼلی ده

9 مسلم (٢٧٢١) روایت کړی، شیخ سعدي رحمه اللّٰه ددې دعا په اړه وایي: «دا دعا د جامعو او ډېره نفعه رسونکو دعاوو له جملې څخه ده، او پدې سره د دنیا او آخرت د خیر غوښتنه کیږي. «بهجة قلوب الأبرار وقرة عیون الأخیار، پاڼه (٢٠٥)

## د احاديثو تخريج

10 مسلم (۲۷۲۵) روايت کړی

11 مسلم (۲۷۲۰) روايت کړی

12 ترمذي (۳۵۱۳) روايت کړی او وايي دا حديث حسن صحيح دی

13 ترمذي (۳۵۰۲)، او نسائي په السنن الکبری (۱۰۱٦۱) کې روايت کړی، او آلباني په صحيح الجامع (۱۲٦۸) کې حسن ګڼلی

14 بترمذي روايت کړی او وايي: «دا حَدِيث حَسَن صَحِيح»

15 أحمد (۲۲۱۰۹) او ترمذي (۳۲۳۵)، روايت کړی او ترمذي وايي: «دا حَدِيث حَسَن صَحِيح دی»

16 طبراني په الکبير (۷۱۳۵) کې روايت کړی، او آلباني په الصحيحة کې وايي: دا إسناد ښه ده «

17 أحمد (۱۷۱۸) او أبوداود (۱٤۲۵) روايت کړی او آلباني په مشکاة المصابيح (۱۲۷۳) صحيح ګڼلی

18 أحمد (١٨٣٢٥) او نسائي (١٣٠٥) روايت کړی او آلباني په صحيح الجامع (١٣٠١) کې ګڼلی

19 أبوداود (٥٠٧٤) او بخاري په الأدب المفرد (١٢٠٠) کې روايت کړی او آلباني په صحيح الأدب المفرد (٩١٢) کې صحيح ګڼلی

## څلورم: د نبوي پنا غوښتنو د احاديثو تخريج

1 مسلم (٢٧١٦)، او سنن النسائي (٥٥٢٤) کې روايت شوی

2 بخاري په الأدب المفرد (٧١٦) کې روايت کړی او آلباني په صحيح الجامع الصغير (١/٦٩٤) کې صحيح ګڼلی

3 مسلم (٢٧٣٩) روايت کړی

4 ترمذي (٣٥٩١)، او طبراني په الکبير (٣٦) کې روايت کړی او آلباني په صحيح الجامع (١/ ٢٧٨) کې صحيح ګڼلی

## د احاديثو تخريج

5 بخاري (٦٦١٦)، او مسلم (٢٧٠٧) روايت کړی

6 مسلم (٢٧٢٢) روايت کړی

7 بخاري (٢٨٩٣) روايت کړی او مسلم يې ځې برخه روايت کړی (٢٧٠٦)

8 أبو داود (١٥٥١)، او ترمذي (٣٤٩٢)، روايت کړی او آلباني په صحيح الجامع (٨١١/٢) کې صحيح ګڼلی

9 بخاري (٦٣٧٦)، او مسلم (٥٨٩) روايت کړی

10 مسلم (٢٧١٧) روايت کړی

11 أبوداود (١٥٥٤)، او نسائي (٥٤٩٣)، روايت کړی او آلباني په صحيح الجامع (١/ ٢٧٥) کې صحيح ګڼلی

12 طبراني په الکبير (٨١٠) کې روايت کړی او آلباني په صحيح الجامع (١٢٩٩) کې حسن ګڼلی

13 أحمد (٢٦٦٧)، او مسلم (٢٨٦٧) روايت کړی

## پنځم: د شرعي دم د احادیثو تخریج

1 بخاري (٥٧٤٩) او مسلم (٢٢٠١) روایت کړی، او په سنن ترمذي (٢٠٦٣) کې راغلي چې هغه يې په فاتحه باندې اوه ځله دم کړو

2 مسلم (٨١٠) روایت کړی او دا پکې راغلي چې دا د الله په کتاب کې تر ټولو عظیم آیت دی، په صحیح بخاري (٢٣١١) کې راغلي چې دا (ایت) له شیطانانو څخه ژغورونکی دی.

3 بخاري (٥٧٣٥)، (٥٧٤٨) او مسلم (٢١٩٢) روایت کړی

4 بخاري (٥٧٤٢) ، (٥٧٤٣) روایت کړی

5 بخاري (٥٧٤٥، ٥٧٤٦) او مسلم (٢١٩٤) روایت کړی، او په مسلم باندې د نووي رحمه الله شرحه وګوره (١٤/ ١٨٤)

6 مسلم (٢٢٠٢) روایت کړی

7 بخاري (٣٣٧١) روایت کړی

8 مسلم (٢٧٠٩) روایت کړی

9 أبوداود (٥٠٨٨)، او ابن ماجه (٣٨٦٩) روایت کړی او آلباني په مشکاة المصابیح (٢٣٩١) صحیح ګڼلی

10 مسلم (٢١٨٦) روایت کړی

11 أبوداود (٣١٠٦) او ترمذي (٢٠٨٣) روایت کړی، او آلباني په صحیح الترغیب (٣٤٨٠) صحیح ګڼلی

## شپږم: د سهار او ماښام د اذکارو تخریج

1 أحمد (٨٧١٩) روایت کړی، او د حدیث إسناد ابن باز رحمه الله په خپله رساله (تحفة الأخیار) حسن ګڼلی

2 مسلم (٢٧٢٣) روایت کړی

3 بخاري (٣٦٠٦) روایت کړی

4 أبوداود (٥٠٦٨)، او ترمذي (٣٣٩١) روايت کړی او ابن باز رحمه الله يې سند صحيح ګڼلی

5 أحمد (٦٥٩٧) او أبوداود (٥٠٧٦) او ترمذي (٣٥٢٩) او بخاري په الأدب المفرد کې روايت کړی، او ابن باز رحمه الله يې سند حسن ګڼلی

6 إمام أحمد (٤٤٦)، او ترمذي په (١٠١٧٩) شميره روايت کړی، او وايي: (دا حسن صحيح دی)

7 إمام أحمد (١٨٩٦٧) او ترمذي (٣٣٨٩) روايت کړی، او ابن باز يې إسناد حسن ګڼلی

8 أحمد په المسند (٤٧٨٥) او أبو داود (٥٠٧٤) روايت کړی او حاکم صحيح ګڼلی

9 أحمد (٧٨٩٨) او ترمذي (٣٤٣٧) روايت کړی او ابن باز يې اسناد حسن ګڼلی

10 بأحمد (١٥٣٦٧، ٢١١٤٤) روايت کړی، او ابن باز يې اسناد حسن ګڼلی

11 نسائي (١٠٤٠٥) او بزّار (٢٨٢/٢) روايت کړی، او آلباني په السلسلة الصحيحة ٤٤٩/١) کې حسن ګڼلی

12 أبو داود (٥٠٨١) روايت کړی، او راجحه خبر داده چې موقوف ده، خو حکم د مرفوع لري لکه څنګه چې ألباني ويلي (وګوره: السلسلة الصحيحة ٤٤٩/١١)



العلميــة
الوقفيــة
اقتداء
د اقتداء العلمية الوقفية مؤسسه
مونږ د نبي ﷺ سنتونه او ورځني اذکار خپروو
ستاسي اړيکه زمونږ د خوښۍ سبب ګرځي
00966503766222
doa.eqtidaa.com
@eqtidaa1
Download on the App Store
ANDROID APP ON Google play